انجنیر سلطان جان کلیوال
۲۰۱۷/۰۸/۱۴

# د افغانستان اوبه

## د افغانانو سره د دُښمنۍ ستر لامل...

د سرحدی اختلافونو نه وروسته د هغو اوبو په سر د حق لرلو ادعاوی چی د افغانستان له خاوری نه د نورو همسایه هیوادونو په لور بهیږی، د ټولو اختلافونو او د افغانستان په کورنیو چارو کی د ګاونډیو هیوادونو د دوامداری لاس وهنی تر ټولو لوی عامل او سبب پیژندل شویدی. په دی برخه کی په لنډه توګه لاندی ټکی د یاد ونی وړ راته ښکاری:

### لومړی د ایران سره د اوبو د ویش په سر ستونزه:

د افغانستان او ایران تر منځ د اوبو د ویش په سر اختلافات له هغه وخته چی د دواړو هیوادونو تر منځ سرحدی پوله د انګریزی منځګړی هیئت له لوری په ۱۹ سمه پیری کی (هغه وخت د لا د افغانستان خارجی سیاست د انګریزانو په لاس کی و) و ټاکله شوه موجود و. په ۱۹۵۰ کال کی د دواړو هیوادونو تر منځ د هیلمند د دریاب د اوبو د اندازی او د هغی د ویش دپاره یو مشترک کمیسیون جوړ شو. د دی کمیسیون کار د نظر د یووالی د نه موجودیت له کبله دیر په سُستۍ سره په مخ روان و، خو بیا هم د دیرو څیړنو او مطالعاتو وروسته، دواړه هیوادونه په دی و توانیدل چی د یوه داسی تړون په نهای کیدلو بری و مومی چی دواړو خواو ته د منلو وړ وی.

[( په دی برخه کی د افغان جرمن په ویب پانه کی د محترم ډاکټر صاحب عبدالله کاظم لیکنه تردی عنوان لاندی «بررسی تحلیلی و تاریخی معاهده آب دریای هیلمند بین افغانستان و ایران» چی د دی مقالی تر لیکلو پوری په شپاړسو برخو کی نشر شویده، هر اړخیز معلومات وړاندی کوی)]

دا تړون چی په ۱۹۷۳ کال کی د دواړو هیودونو تر منځ لاس لیک شو، دایران دولت د هیلمند د دریاب په اوبو کی په هر ثاییه کی د (۲۶) متر مکعب اوبو د تر لاسه کولو مستحق و ګڼل شو. (په دی مقدار کی هغه څلور متر مکعب اوبه چی د ملګرتیا، ښه ګاونډیتوب او نیک نیتی په نوم د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه د ایران شاهنشاه رضا شاه ته په فوق العاده توګه منلی وی هم شاملی دی.) چی د محاسبی له مخی ایران په یو کال کی نږدی د( ۸۸۰ ) ملیونه متر مکعب اوبه مستحق شمیرل شویدی.

په ۱۹۷۳ کال کی په افغانستان د یوی نظامی کودتا په نتیجه کی شاهی رژیم له منځه ولاړ او لومړی جمهوری نظام د سردار محمد داودخان په مشریٔ را منځ ته شو. په دی سیاسی تغییر سره د ایران شاهی دولت د یوی بلی ویری سره مخامخ شو چی مبادا دا تغییر په ایران کی هم د شاهی رژیم نسکوریدو ته زمینه برابره نه کړی، نو د نومړی تړون د عملی کیدو د پاره یی هیڅ ډول عملی اقدام ته هڅه ونه کړه، بلکی زیار یی و ویست چی جمهوری نظام بیرته د سقوط سره مخامخ کاندی. البته په دی وخت کی افغان دولت هم په داسی موقعیت کی نه و چی د نوموړی تړون د تطبیق د پاره لاس په کار شی. بالاخره په ۱۹۷۶ کال کی افغان دولت و توانیده چی د قرارداد مربوطه اسناد د ایران سره تبادله او نهایی کاندی. په دی وخت کی د افغانستان په نسبت د ایران په سیاست کی هم څه بدلون راغلی و او هغه بدنیتی چی د افغان جمهوری نظام په هکله یی لروده که بیخی له منځه نه وه تللی نو کمه شوی خو حتمی وه، نو دا لیری نه بریښیده چی د اوبو په هکله نوموړی تړون په عمل کی پلی شی.

له بده مرغه په ۱۹۷۸ کال کی د افغانستان کی جمهوری نظام چی په هیواد د ملی ګټو د تامین د پاره ورته څه ناڅه هیله مندی پیدا شوی وه د یوی بلی خونړی نظامی کودتا په نتیجه کی را نسکور شو او یو ځل بیا د ایران د پاره د افغانستان په ټول چارو کی د لاس وهنی د پاره زمینه برابره شوه. خو په ایرانی کی هم سلطنتی نظام د خپل ژوندانه په وروستیو مرحلو کی و او د (۱۹۷۹) د فبروری په میاشت کی شاهی رژیم چی په سیمه کی یی د امریکا د ژاندارم حیثیت درلود د اسلامی او مذهبی مرشدانو له خوا چی، ایات الله خمینی یی په سر کی و، ړنګ شو او د افغانستان سره په مناسباتو کی بیا د ژور بدلون مرحله را منځ ته شوه. د همدی کال د دسمبر په میاشت کی د روسانو یر غل پر افغانستان، د افغان دولت په ټولو سیاسی نړیوالو مناسباتو باندی سیوری واچوه او د ایران سره داوبودقرارداد په شمول د نورو ټولو تړونونو په عملی کیدو کی خنډ راغی او بیا تر (۱۹۸۹) کاله پوری افغان ملت د روسی قواو سره په جګړه کی ښکیل پاتی شو.

په همدی توګه د ایران د نوی اسلامی دولت مناسبات هم د امریکا سره خړپړ شول او دواړه هیوادونه په کورنیو معضلو او جګړو کی د اوږدی مودی د پاره په دی و نه توانیدل چی د اوبو د ویش معضله د امضا شوی قرارداد له مخی پای ته ورسوی.

تردی وروسته په افغانستان کی د جهادی تنظیمونو تر منځ جګړو اوخصوصاً د طالبانو د تسلط او واکداریٔ په وخت کی دایران او افغانستان د دولتونو تر منځ اړیکی دومره خرابی شوی چی ایران په څرګنده توګه په افغانستان کی د دولتی ناتوانی نه ډیره ناوړه ګټه پورته کړه او د افغانستان د بی ثباتیٔ د پاره یی د هیڅ ډول خصمانه عمل د سرته رسولو نه ډه ډه و نه کړه. په دی دوه لسیزو کی د افغانستان ټولی اوبه بی له هرډول کنترول او اندازی څخه د ایران خاوری ته ورغلی او ایران ورنه ګټه واخستله.

ایران په دی منظور چی افغانستان هیڅکله هم د دی وړتیا ونه لری چی دی هیواد ته ورتلونکی اوبه د کنترول لاندی راولی او یا د دواړو هیوادونو تر منځ د (۱۹۷۳) کال قرارداد عملی بڼه غوره کاندی، د افغانستان په ټولو چارو کی لاس وهنه پیل کړه، ژبني او مذهبي او قومی اختلافاتو ته یی لمنه ووهله او په دی توګه یی د افغان قومونو تر منځ نور اختلافاتو ته نوی لاری پرانستلی. د ایرانی آخوندی رژیم یواځی دی اختلافاتو ته په لمنی وهلو اکتفا و نکړه بلکی زیار یی و ویسته چی د هیلمند د سیند د پاسه د دیراود په سیمه کی د کجکی بند، د زرنج د ښار په (۹۵) کیلومتریٔ

کی د کمال خان بند او همدارنګه د فراه رود د سیند د پاسه د د بخش آباد د اوبو بند د جوړونې کارونه د توقف سره مخامخ کاندي او یا يې بیخي له منځه یوسي. د مثال په توګه د کمال خان د بند کار چې په ۱۹۹۶ کال کې پیل شوی و، د ایران د دولت د تخریبي پلانونو له کبله یې کارونه تر (۲۰۱۱) کاله پورې و ځنډیدل. د دې بند د ساختماني کارونو په ځنډیدو کې د وخت افغان دولتي چارواکی خصوصاً د دولت مشر حامد کرزی تر بل هرچا نه ډیر ځکه ګرم او ملامت دی چې نوموړی له لومړۍ ورځې څخه د خپل قدرت تر وروستۍ ورځې پورې، د ایران له دولت څخه د نغدو پیسو د کڅوړو د تر د لاسه کیدو له لارې ، ایران ته د زیاتو روانو اوبو قیمت له هغه دولت څخه اخستی دی او که چیرې د حساب و کتاب ورځ راشي نو ایران به ضرور دا خبره کوي چې د زیاتو اوبو قیمت یې لا پخوا، افغان زمامدار حامد خان کرزی ته ورکړیدی. داچې ښاغلی حامد خان کرزي به د دې ملي خیانت په کولو ځان څه ډول تبرئه کوي؟ څه پته نه لګي.

اوس چې جمهور رئیس محمد اشرف غنی د هیلمند د اوبو د مهار کیدو او د هغه د پاسه د کما خان او دوه نورو بندونو د جوړیدو د کار د پاره د خپل ملت سره ژمنه وکړه، نو دی کار ایراني چارواکي شدید عکس العمل ته را و پاراول او د افغان دولت دا کار د هامون هیلمند په حوزه او د زابل ـ سیستان په ایالت کې د اقلیم د تغیر سبب بولي او د افغان ولس دا عمل د خپل هیواد د پاره د « د ملی امنیت تهدید ګڼي.» حال داچې افغان دولت لا د مخه د ۱۹۷۳ کال د قرارداد د موادو د تطبیق د پاره د مسلکي کارپوهانو د یوې مشترکې کمیټې د جوړیدنې سره چې ایران ته د ټرون سره سم د اوبو اندازه ورکړي موافقه کړیده، خو ایراني چارواکو لا تر اوسه دې پوښتنې ته ځواب نه دی ورکړی، نو معنی یې بې له دې څه کیدای شي چې ایراني چارواکي د دواړو هیوادونو تر منځ امضآء شوی قرارداد ته ژمن نه دي. ایراني چارواکي لا هم زیار کاږي چې په افغان دولتي مشرتوب کې خپل پلویان دي ته و هڅوي چې جمهور رئیس اشرف غني باندې فشار راولي چې داوبو د کنترول او د ایران سره د قرارداد د تطبیق معامله شاته و غورزوي او بیا د ډالرو هغه کڅوړې چې د حامد کرزي دفتر ته راتللې له سره راروانې شي. ډیره د خواشنی خبره داده چې همدا اوس هم د افغان دولت د مشرتابه په ډله کې داسې کسان شتون لري چې د ایرانیانو غوښتنې ورته سمې بریښي، او ټولې هغه حملې چې په افغاني فرهنګ یې کوي، ټول هغه مذهبي تضادونه چې ایران ورته لمن وهي او حتی افغان یاغیانو ته د لاس ورکوني سره هم د موافقې سر خوزوي، او ملاتړ یې کوي.

د افغانستان له جغرافیې څخه ایران ته تلونکې اوبه هغه تر ټولو ستر سبب دی چې ایران به هیڅکله افغانستان ته د یوه ګاونډي هیواد په توګه د دوست په سترګه و نه ګوري او هر څومره چې یې توان وي په هماغه اندازه به د افغان دولت په بې ثباتي اوناتوانۍ کې خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړي.

دویم ـ د پاکستان سره د اوبو معضله د ایران د معضلې سره یواځې همدومره توپیر لري چې پاکستنان ته د کابل او کونړ د سیندونو اوبه د ټول تیر عمر د پاره بې له حسابه او کنتروله ، تللې او لا هم روانې دي، نه کوم قرارداد شته او نه کوم داسې تړون شته چې د حقابې د نړیوالو اصولو له مخې د اوبو ویش پرې وشي. ماته د مجاهدینو د برې په لومړیو وختونو کې د ننګرهار د ولایت د ملي امنیت مشر مجاهد قوماندان شمالي خان ( چې وروسته د نورو جهادي قوماندانانو له خوا و وژل شو» د جلال آباد په ښار کې دا کیسه کړې وه چې د جهادي جنګونو په وخت کې د پاکستان د (آی، اس، آی) اداری ډیر ی زیاتې هڅې وکړې چې د(ډرونټي) بند په مجاهدینو وران کاندي خو زما په شمول د

ننګرهار جهادی قوماندانانو دی کار ته غاړه کی نښوده او دا کارېي و نه کړ. تاسو ګران لوستونکی دا خبره په یاد ولری چی که د افغانستان دولت هر کله و غواړی چی د کونړ د دریاب د پاسه د داسی کوم بند د جوړیدو د پاره اقدام وکړی چی پاکستان ته د اوسنیو ور روانو اوبو په مقدار کی کموالی راولی نو د پاکستان د دولت عکس العمل به د ایران په نسبت ځو چنده شدید او سخت وی.

دریم ـ په همدی توګه که د افغانستان دولت کوم وخت د دی امکانات تر د لاسه کړی چی د آمو دریاب اوبه چی تر اوسه په مطلقه توګه د منځنی آسیا هیوادونو ته روانی دی عیاری کړلی شی او د هیواد په شمالی و لایاتو کی د پراخه دښتو د خړوبولو د پاره تری کار واخستلی شی، بی له شکه به د شمالی ګاونډیو هیوادونو ( تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان) د داسی قهر جن عمل سره مخامخ شی چی غربی او شرقی ګاونډیو ( ایران او پاکستان ) ته به دُعا ګانی وکړو.

دا هغه له نظره لویدلی تریخ حقیقت دی چی د افغان ولس د ژوندانه په ټولو اړخونو کی یی ګاونډیو هیوادونو ته د لاس وهنی زمینه د تجا وزاتو تر سرحده برابره کړیده.

زما په نظر دا حالت به تر هغی دوام مومی تر څو چی زمونږ په دولتی ادارو کی دا ښاغلی چارواکی د خپل هیواد ملی ګټی و نه پیژنی او هغی ته ژمن پاتی نه شی. کله چی افغان دولت د خپل ملت په قوت باندی اتکا وکړه او د خپلو ملی ګټو د تامین او ساتنی د پاره یی د ملت سره یوځای متحدانه عمل تر سره کړ، نو بیا به هر ګاونډی په دی و پوهیږی چی د افغانستان په اوبو کی د نړیوال حقابی د اصولو له مخی د دوی حق څومره دی او څنګه یی تر د لاسه کولی شی؟ او که داسی ونه شی نو یواځنی د اشرف غنی غوندی یو مشربه هیڅکله په دی بریالی نه شی چی د خپلو ملی شتمنیو نه د خپل ملت د هوسایني د پاره ګټه پورته کړی ، هم د کورنیو غلو او هم د پردیو د خرابکاریو مخه ونیسی.

**پای**